### د ډاکټر عبدالقيوم کوچي ليکنه

## ارواښاد محمد ګل مومند بابا ته ارتيا

دارواښادمحمد ګل خان مومند بابا د نامه سره ټول لر او بر پښتانه اوافغانان پېژندګلوي لري او پوهيږي چې دی څومره يو دروندمسلمان پښتون -افغان شخصيت واوده د اسلام په رڼا او دپښتو او پښتونولۍ پر بنسټونو اولارو چارو څومره ستر او نه هېرېدونکي خدمتونه دافغان د ولس او ملت په جوړښت او په افغانستان کې د ميشتو کامونو په منځ کې د پيوستون او يوالي د پاره کړي دي . ده د اسلامي خواخوږۍ اوروحيې پر بنسټونوچې ټول مسلمانان يودبله سره ورونه او خوېندې دي د هغو مسمانو کورنيوو سره چې دروسانو او کمونستانو د ظلمونو څخه د خلاصون په وجه افغانستان ته را تښتيدلي او استوګن شوي وو نه هېريدونکي مرستې او لار ښوونې کړې چې د هر مسلمان -افغان د پاره د وياړ وړ ګڼلی کيږي . د ليکنه د ارواښاد مومند بابا پر شخصيت او ده د پښتو او پښتونولۍ پر لارو چاره باندې د عزتمند ورو ښاغلي محمد اعظم ارسلائي په وړانديز او ده ددرې ګونو پوهنتونو په څواب کې چې د پښتو پر ارزښتونواو دپښتو د پر زيدلو او خوارو واره کيدلواو بيا ئې د پيوستون په لارو چارو کړې سر ته رسول کيږي .ددې کرښودليکونکی په نظر د مخه تر دې چې د ارواښاد مومند بابا پر څوارخيزه شخصيت او ده په کارناموواو ده پر ارتيا دنني ويجاړاو وران افغانستان په هکله او هم د محترم ارسلائي د پښتو په څواب کې څيړنې وشي ښه به دا وي چې د ګران هيواد ناورين چا پيريال په لنډيز ه توګه و سپړل شي اوبيا پر دغوچارو رڼا واچوله شي . د افغانستان روان حالات اوستونزې ورځ په ورځ ډېريږي او د هر خواخوږي او په وطن مين افغان د پاره د انديښنې وړ دي . هر د شعور او احساس خاوند سړی پوهيږي چې هيواد د تباهۍ کندې ته ورنژدې شوی دی . هر څوک پوهيږي چې د بې اتفاقۍ او ځانځي سرې لمبې د وطن په ګوټ ګوټ او ټولو سيمو کې خپرې دي اوبې وسه خلك په کې سوزي .ددې غميزې اصلي وجه دروسانو او دهغو دګوډاګيانو دسيسې او خيانتونه ووچې افغاني کمونستان ئې په ۱۹۷۸ کې واکمنۍ ته ورسول او دافغانستان دخلکو ددين او ولسي ژونداوکلچر په خلاف ئې يوه پردۍ ائډيالوژي پر خلکو او هيواد واکمنه کړه . همدا وجه وه چې په وطن کې اسلامي اوولسي پاڅونونه ددغه ناولي او د نه منلونظام پر ضد راپورته شول اود جهاد اود الله اکبر چيغې د هيواد په ټولو درو ،شېلو او کليوو باندو کې د ازادۍ او خپلواکۍ د هيلوپه بهير کې راوچتې شوې اوپه وطن کې ټول کامونه دخپلې سپېڅلې اسلامي عقيدې اوخپلواکۍ د خوندی ساتلوپه لار کې په غور څنګ شول .د افغانستان د خلکو د سلامي او

ملي پاڅونونو او سربښندنو او قربانيوو په نتجه کې کمونستي واکمن نظام راوپرځول شو او ددې ناولي او کرغيړن کمونستي واکمنۍ د ماتې سره سم جهادي تنظيمونه او د هغو مشران وطن ته بيرته ور ستانه شول او د نوی اسلا مي واکمنۍ په جوړېدو ئې لاس پوری کړل. ځنې جهادي مشران چې د پردو دجاسوسيو وپه لموو کې راګير شوی وواو پرپردو خرڅ شوی وو، ونه غوښتل چې ددوی دمشرانو په منځ کې يووالي راشي او يوه مضبوطه اسلامي او ملي واکمني را منځ ته شي. سره له دې چې د پاکستان او ايران نفوذ او اثر هم پرځنيوو مشرانو ريښې زغلولی وې او د دوی د لارې ئې خپل هدفونه خوندی کول مګر روسي کمونستان چې د افغاستان دخلکو د جهاد او ملي مقاومت په مقابل کې د ماتې سره مخامخ شوي او تولې نړی ته مخ تورن او سر کوزی شوی وو په پټه او په ډېرې زرنګۍ سره د افغانستان د شمالي سيمو و پرمجاهدينوو ډېرې پانګې خرڅې کړی وی او هغوی ئې ډاډه کړی وو چې راتلونکې واکمنی به ددوی حق وی او روسان اوافغاني کمونستان يا په بل عبارت دروسانو ګوډاګيان به په افغانستان کې ددغې موخې دسرته رسولو په لاره کې دوی سره هر اړخيزې مرستې کوی. همدا وجه وه چې قوماندان مسعود او استاد رباني د روسانو په لار ښود د پرچميانو د مشرانو سره روغه جوړه وکړه او د پرچمي جنرالانو په مرسته د نورو جهادي تنظيمونو په خلاف په دسيسوو لاس پوری کړل. بريالي محمود او نور پرچمي مشران د رباني په واکمنۍ کی تر شپږو مياشتو پوری په کابل کې د رباني، مسعودد واکمنۍ په ټينګيدو کې مرستی کولې. ددغو واقعيتونو ثبوت د روسانو د جنرالانو په ليکنو او د امريکائي څيړونکو په ډېرو کتابونو کی خپاره شوی دی چې په افغانستان اوپه بهرنيوو هيوادو کې دنظر خاوندان ترې ډېر ښه خبر دي. ددغو دسيسواو پټو خبرو ښکاره ثبوت او څر ګندونې په دې لا ندو کتابونوکی چې ځنې روسي او امريکائي ليکوالانو ليکلی دی په ډاګه سره ليدل کيږی:

1- REd Flag Over Afghanistan   by Thomas T.Hammond---
2- Afghanistan's two party commusism Parchan and Khalq by Anthony Arnold-------------------
3-Ghost Wars the secret history of the CIA in Afghanstan  by Steve Coll-------------------------=
4- An Insider's Account of how the CIA spearheaded the war on Terror iBy Gary C. Schroen
5- KGB's activities in Afghanistan by Borise Gromove
6-KGB's Agents among Afghans by Brus Rechardson-----

همدغه ځانځانی او د واکمنۍ سره مينه ددې سبب شوه چې مجاهد مشران پر خپلو منځو کې په دښمنۍ او تربګينۍ اخته شي او اسلامي او ملي هدفونه هير کړی او د سپيڅلو مجاهدو شهيدانو وينې تر پښو لاندې کړې، ښکلی کابل په کنډواله بدله کړی او شپيته زره بې وزلی کابليان د خپلو نفساني او شيطاني هوسونو او قدرت ته د رسيدو د پاره شهيدان کړی. ددې غميزې اصلی عامل

دربانی دوکه او خیانت ؤ چې دنورو جهادی مشرانو سره ئې وکړه . دده دریاست جمهورۍ موده یوازې درې میاشتې وه مګر ده د ټولو نورو مجاهدینو په خلاف خپله دوره په شپږو کلو اوږده کړه او همداوجه وه چې دتنظیمونو په منځ کې خونړۍ جګړې په کابل کې پیل شوې . د کابل ورانې او دبې وزلو وژل اود جګړو پیل داټول د ربانی- مسعود دقدرت غوښتلو او ملی‌او جهادی خیانتونو په نتجه کې رامنځ ته شول چې بیا طلبان هم ددغو ناخوالوپه ترڅ کې را پیدا شول .

روسان چې دافغانستان اصلی او پژندل شوی دښمنان دی د مجاهدینو په لیکو کې ئې خپلې ریښې زغلولی او ټینګې کړی دی او همداوجه ده چې او س هم د ښاغلی‌کرزی په واکمنۍ کې روسی جاسوسان ګړندی دی او داسی ویل کیږی چې لویدیځو هیوادو هم دامنلی چې د غربی ډوله ډموکراسۍ په پلی کیدو کې د کمونستانو شتوالی په افغانستان کې یو ضرورت دی . که چیرې دامریکایانو اود نورو لوېدیځوهېوادوزور او ملا تړ نوای ګلابزوی او علومی به د افغانستان په ولسی جرګه کې د نورو استازو په څېر سپاره نه وای.. کله چې دا روسی اجنټان د تلوېزینونوپه څپو کې ښکاره کیږی دافغانستا ولس دننه په وطن او په بهر کې د هغو په لېدو خپه کیږ ی اوداکار د ځان او دهېواد سپکاوی ګڼی .

په خواشینۍ سره بایدوویل شی چې ښاغلی کرزی دډېرو نړیوالومالی ، سیاسی او پوزی مرستو سره سره ونشوای کړای‌چې په وطن کې امنیت ، ابادی او نسبی عدالت راولی او د بېوزلو او محرومو خلکود پاره د ژوند چاپیریال برابر کړ ی . ده ونشوای کړای چې د بیلا بیلو کامونو په منځ کې پیوستون راولی او دیوه موټی ملت په جوړولو کی بریالی شی . ده په خپلې واکمنۍ کې د کامونو ځنی شخصیتونه پر ځان را ټول کړی‌دی او ددوی په راوستلو اوپکارولو سره ئې داسی ګڼلې چې ګوندی دي به په دې توګې سره د ملت په جوړښت اویوالی کې بریالی شی . دا کسان چې دده سره ملګری شوی دی او دده په واکمنۍ کې لوړپولی شوی‌دی دا هغه ناولی او کر غیړن خلك دی چې پر خپلو کامونو او پر نورو ئې ډېرظلمونه کړی او لاسونه ئې د بیوزلو خلکو په وینوسره او ککړ دی او هم د پردود ګټود خوندی کولو دپاره په پیسوو خرڅ شوی دی . دوی سره نه دخپلواکۍ او نه د خلکو د سوکالۍ اندیښنې شته .دوی پرون پر روسانو ، ایرانیانواو پاکستانیانو خرڅ شوی وو اواوس د امریکایانواو لویدیزو هیوادوڅخه پیسې اووسلې تر لاسه کوی او دهغو په چوپړ کې سر ګردانه ژوند تیروی . ټوله نړۍ پوهیږی چې دښاغلی کرزی دواکمنۍ په موده کې تر شلو بلیونو ډالرو څخه ډېرې پیسې د افغانستان د امنیت او بیا ودانولو او د ملت د جوړښت په لار کې تر لاسه شوی دی مګر داټولې پیسې ددغو ناولواوبد نامو ټوپك سالارانو جیبونو ته ولېدلی دی او د بیوزلو د ژوندون د سمون په لاره کې نه دی لګیدلی . همدا وجه ده چې د افغانستان خلك ددغې واکمنۍ څخه کرکه لری اوورځ په ورځ د جګړولړې د هیوادپه ټولو سیمو کې خپرېږی او د خلکو ملاتړ تر لاسه کوی .

افغانستان په دې دريو لسيزو کې هر څه له لاسه ورکړل او خلک ئې هم دتروريستانو په نامه په نړۍ کې وپيژندل شول . دننی افغنستان د پاره داسې يو ولسمشر لکه خدای بښلي محمد گل خان مومند په کار دي چې د خپلې سپيڅلې اسلامی عقيدې او پښتو او پښتونولۍ پر بنسټونولمړۍ په ټول هيواد کې امنيت خوندی کړی او جوخت له هغه سره د يو ځانگړی ملت په جوړولو بريالی شی او بيا په ميړانې او اسلا مي تقوا او عدالت سره په ولا يتونو کې دبيا رغونې او ابادۍ کاروانه پيل کړی . لکه چې ټول هغه مسلمان افغانان چې کامی ، ژبنی او د سيمې تعصب و تنگنظری نلری پوهيږی چې اروابناد مومند بابا کله چې دهيواد په شمالی سيمو کې د ظاهر شاه دشلو لمړنيو کلونو په موده کې يو خپلوک او ډيرو صلاحيتونو خاوند ؤ په ډير صداقت او ميړانې سره د ټولو ميشته کامونو په مينځ کې داسلامی حکمونو او د پښتونولی د بنسټونو پر ارزښتونو د داډ او باور چاپير رامنځ ته کړی و او په بشپړ ايمانداری سرئې عدالت پلي کړی و . ده تينگه عقيده درلوده چې اسلام اوپښتو او پښتونولی د يوې ځانگړې سکې دوه مخونه دي . پښتو نه يوازې د افغانستان د خلکو ژبه ده بلکې د ټولنيزژوند دښه سمون او د عدالت او لاس نيوي اود بيوزلو د حقونوخوندی کول او د ظالمانو د تيری دمخنيوی يوه لاره او غوره طريقه ده . کله چې خدای بښلي محمد گل خا ن د شمال په ټولو ولايتونو کې چې په هغه وخت کې د قطغن زمين په نامه سره ياديدل خپلواك واکمن ؤ د افغنستان د شمالی پولو له خوا ډير زوريدلی او کړيدلی تاجک ، ازبك ، ترکمن ، قزاق او قرغز مسلمانان چې دروسانود ظلمونو او وژنو څخه خلاص شی د امو دسند څخه د افغانستان خوا ته راواوښتل او په افغانستان کې د مومند بابا د اسلامی او پښتنی عدالت او مروت او لاس نيوي سره مخامخ شول . مومند بابا ددوی سره د اسلامی مروت او پښتونولی پر بنسټ چال چلند کاوه . دوی ئې نازول او دوی ته به ئې دولتی ځمکې په وړتيا توگه ورکولی اود ځمکو په ابادولو او خړوبولو کې به ئې هم مرستې ور سره کولې . دغو مهاجرو مسلمانانو به چې دمومند بابا اسلا مي شفقت او پښتنی صداقت او لورينه وليدله نو بيا به ئې خپلو خپلوانو او عزيزانو ته چې د امو دسند نه پورې په بله غاړه کې د روسی کمونستانو په سيمو کې د مرئيتوب ژوند تيراوه د خپل د ښه ژوند او د اسلامی عدالت او پښتنی سخاوت او خواخوږی کسې او داستانو ور ليږل او هغوی ئې هڅول چې د افغانستان سپڅلې خاورې ته ورستانه شی . د مومند بابا د پښتنی تدبير او تعقل له برکته ډيرو کورنيوو وکولای شول چې د قرقل د پسونو او آسانودښو او اوچتو نسلونو سره يو ځای د پښتنو په مرسته د امو د سيند داوبو څخه راپورې شی او افغانستان ته پناه وروړی او هلته د قرقل د صنعت او

بزکشي د اسونو په ودي او روزولو کې پر مختګ وکړي . مومند بابا خپل پښتانه وهڅوول چې دکډوالو سره خپلوي وکړي دهغو ځامنو ته خپلې نجونې ورکړي اود هغوي نجونې خپلو ځلمو ځامنو ته ور واده کړي .
مومند بابا دکډوالو او هستوګنو مسلمانو پښتنو او افغانانو په مینځ کې دويني د خپلوی له لارې د ځانګړې ملت د جوړېدو عملي ګامونه پورته کړل . کډوالو مسلمانو به چې د مومند باباپښتني لورينه او اسلامي تګ لاره او عدالت وليد نو بيا به هر خدمت ته د افغانستان د خاورې او ملي واکمنۍ په خوندی ساتلو کې چمتو شول . دوی به پر خپلې خوښې خپل ځلمي ځامن د پچې يا عسکرۍ د تيرولو د پاره د افغانستان په پوزونو اواردو کې د روزولو دپاره مومند بابا ته ورسپارل . دغو کډوالو به په ډېرې مينې او تلوسې سره پښتوژبه زده کوله او يو بل ته به ئې سپارښتنه کوله چې پښتو يوازې ژبه نده بلکې د ژوند دسمون او انساني خواخوږۍ او عدالت تګ لاره ده .کله چې دوی د روسانو تر اسارت لاندې شپې ورځې تېرولې روسي ژبه به په جبر او زور سره ددوی ماشومانو ته ورښودله کيده . ددوی د مورنۍ او روسي ژبې په مينځ کې هيڅ داسې نژدېوالي او ورته والي نه و چې دوی پرې جذب شي .له بلې خوا دوی ټول مسلمانان وو او غوښتل ئې چې دخپل دين سره د قران عظيم الشان په لوستو سره ټينګې اړيکې ولري . روسانو غوښتل چې دو ی د خپل اسلامي کلچر څخه لرې وساتي . کله چې دوی په افغانستان کې استوګن شول او د اسلامي او پښتني کلچر سره مخامخ شول دوی په ډېرې مينې او تلوسې سره د پښتو په زده کولو پيل وکړو . ددې ليکنې ليکونکي په ۱۹۷۱ عيسوی کال د خدای بخښلی عبدالرشيد ساپي لخوا د اخچې د ښارد دليدو دپاره د پسرلی په موسوم کې چې ټولې دښتې دشنو وښوو او طبيعي ګلانو څخه ډکې وې وربلل شوی ؤ. په پسرلی کې په مليونو ځانې د اخچې په دښتو کې ديخوا او اخوا الوزی او خلك ئې هم د ليدو دپاره اوهم د ښکار د پاره د اخچې شاو خوا سيمو ته ورځی او د شنو دښتو او ځاېو په ليدو خوندونه اخلي . خدای بخښلی عبدالرشيد خان ساپي چې يو ډېر سپيڅلی مسلمان پښتون شخصيت وپه اخچې کې چې ۸۰ په سلو کې ترکمنان ووپه ملي شورای کې د وکيل په توګه ټاکل شوی و. دا خدای ښبلې شخصيت څوځو ځلي داخچې دترکمنانو لخوا ددوی د استازې په توګه انتخاب شوی ؤ ده به ددوی دحقونو ساتنه په ملي شورای کې کوله .کله چې ما يوه ونۍ په اخچه کې دده سره تيره کره ما ته ډېر ترکمنان راغلل او پيژنګلوی ئې را سره وکره .زما ترکمنی ژبه لکه چې خدای بخښلی ساپي پرې ګريده نوه زده مګر ټولو ترکمنانو په پښتو زما سره رواڼې خبری کولې اوويل به ئې چې پښتو يوه ډېره خوږه ژبه ده اوهم د ژوند د سمون لاره او طريقه ده . دوی به ويل

چې پښتنو په اخچه کې ترکمنی ژبه زده کړی او دوی پښتو ژبه یاده کړې ده او په ډېر وېاړ یو دبل سره خبرې او معاشرت کوی ، دا هم د ارواښاد محمد ګل خان د کارنامو یوه ملی ویاړنه د ځانګړی ملت په جوړښت کې شمیرله کیږی .

- مومند بابا دوی ته ویل چې د افغانستان خاوره د اسلا م سنګر دی او تاسی او د افغانستا ن بچیان به دا سنګر په ډېرې مېړانې او سر ښندنې سره ساتئ . د مومند بابا داقتصادی سیاستونو له برکته د قندز ، بغلان . مزار او امام صاحب ښارونه په صنعتی ښارونو واوښتل . دده د ملت جوړولودسیاست په تګ لاری سره بې شماره پښتانه د افغانستان دجنوبی او لویدیزو سیمو څخه د شمال په دښتو او بیدیا ؤکې ځای پر ځای شول او د هغو د زیار او قربانیو په نتجه کې شاړې ځمکې په زراعتی او خړوبو ځمکو واوښتی . د همدغو پښتنو کوچیانو ځلمو څخه سرحدی پلیس جوړ شول چې د هیواد پولی ئې د پردو د یر غل او تیری څخه ساتلې . دوی پوهیدل چې د خاورې ساتنه ، خپلواکی او سر ښندنه پښتو او پښتونولی ده. که چیرې د افغانستان د هغه وخت ددولت سروالان د مومند بابا ددغه ملی او کلتوری پالیسی پر بنسټ په ټول افغانستان کی دا پالیسی غوره او پلی کړی وای اوس به دا دژبې ، سیمی او کامونو یا د افغانستان د بشپړ ملی خپلواکی ددښمنانو په ناولی خوله د ملیت نغارې نه اوریدلې کېدې . دیوه هېوادواکدران چې خپلې خاندانی او شخصی ګټې تر ملی ګټو لوړې بولی د میشته او پرتو کامونو د پیوستون او یووالی هیلې او ارمانونه نشی پلی کیدی . داسې ملی هیلې او غوښتنې یوازې د غیرتی او سپیڅلو مشرانو او سر والانو په لرلو سره سر ته رسیدی شی . مومند بابا دخپلې سپیڅلې اسلامی عقیدې او پښتنی داډ له برکته پر خلکو دومره اغیزه کړې وه چې ټولو میشته کامونو پښتو ژبه منلې وه چې ددوی په مینځ کې دیوې ګډې ملی ژبې وسیله وی . دوی سره دا باور پوخ شوی و چې په پښتو کې رښتنی اسلامی دموکراسی ده او دا د ټولنیز ژوند دسمون هغه سپیځلې لاره ده چې هلته چل ول او دروغ اوافراط او تفریط نشته . دا لاره چې څوك غوره کړی د ظلم او تیری نه به وژغورل شی . په پښتو کی د مظلوم لاس نیوی دی او د ظالم سره جګړه ده . په پښتو کی د صادقو او رښتینو مشرانودرناوی او د هغوی د لار ښونو په لاره تګ دی . پښتو کې سرېتوب دی او د انسان کرامت ته په درنه سترګه کتل دی د بشرد حقونود بنسټونو ټول ارزښتونه او غوښتنې په پښتو او پښتونولی کې خوندی شوی او نغښتې دی . په پښتو کې غل او خاین ټکول کیږی اوپښتانه ترې کرکه کوی . پښتو کې د ښځو عزت ، پت او ننګ ساتل کیږی . پښتو د ښځو ستر او پورنې دی . پښتو د جرګو او مرکو پر بنسټ ولاړه دموکراسی ده .د خلکو او سیمو په منځ کې ټولې ستونزې

او تاوتریخوالي د جرګو او مرکو له لارې اواریږي .هغه مشران او
محور شخصیتونه چې د رښتیاویلو او خواخوږۍ او میړانې په وجه د خلکو
زړونو ته ئې لاره موندلې وی په جرګو او مرګو کې ګډون کوی او د خلکو د
بیلا بیلو پرګنو ستونزی اواره وی او په خلکو کې روغه جوړه او دوروری
چاپیریال را منځ ته کوی . پښتو کې لوئی نشته . په پښتو او پښتونولۍ کې
هغه څوك مشر کیدای شی چې د خپل ریښتین توب او خدمتګذارۍ په
وجه د خلکو زړونو او ماغزو ته لاره پرانستی وی او د خلکو ډاډ او باور ئې
تر لاسه کړی وی . د پښتنو د پریوتو او کمزورې کیدوعلتونه دادی چې
پښتنوځنګه چې ښائی پښتنی ارزښتونو او معیارونو ته چې د مخه وخپرل
شول پوره پاملرنه ونکړه او په پیسو اودمادي ژوند د سبالولو په هڅو کې
ورك شول . مومند بابا چې یو رښتین مشر و او د شپې او ورځې به ئې
دولس د او ساینی دپاره کار او خدمتونه کول د خلکو په زړونو کې ځای
درلود او همدا وجه وه چې دي پر خپلو سپارل شوو دندو کې بریالی و .
که چیری دده دزمانې سروالانو دده خبرې او مشورې منلې وای اوس به په
ټول افغانستان کې یو ځانګړي ملت د ګډو ملی ارزښتونو سره ژوند درلود
اوپه ټول هیواد کې به پښتو ددوی ملی او ګډه دویلو او تفاهم ژبه وه اود
پښتونولۍ د ښیګڼو او سخاوت او مروت نه به ئې ګټی پورته کړی وی . او د
بدخشان او پنچشیر او بامیانو خلکو به په ویاړ سره پښتو خبرې کولې او د
پښتونولۍ د ارزښتونو په ساتلو کې به ئې سر ښندنې ورکولې .خو
دخواشینۍ او دسل افسوس خبره داده چې د هېواد واکداران د پردو د
کلچر تر اغیزې لاندې راغلل او دپښتو او پښتونولۍ ټولنیز او ملی
ارزښتونوته ئې پاملرنه ونکړه او دخپلې کورنۍ داقتدار او واکمنۍ په ساتلو
کې شول او داسې ئې اتکل کاوه چې دوی به تر ابده پورې پر خلکو
واکداران او حاکمان وی . په خواشینۍ سره دوی د تاریخ نه زده کړه ونکړه
او پر خپلو ځانځانی غوښتنو او هوسونو کی ډوب پاتې شول اوهمداسې بیا
پسې له منځه ولاړل .اوس چې دوی ټول مړه شوی اویا بی واکه شوی دی او
دهیواد واګې غلو ، سړي وژونکو اود پردو جاسوسانو په لا سونو کې دی
او په ټول هیواد کې ژور سیاسی ، ټولنیز او فرهنګی بحران رامنځ ته شوی
او د هیچا سر او مال په امن کې نه دی پکار ده چې د اروابناد مومند بابا په
څیر یو عادل مسلمان ، پښتون او په ولس او وطن مین یو شخصیت او
مشر را میدان ته شی او ټول دردمند او د سیاسی او ټولنیز شعور افغانان
اود بېلا بېلو پرګنو او کامونو استازی پرې راټول شی او دا دوطن ګوډه ماته
بېړۍ دامن ، عدالت او ورولۍ پلوو ته ورسوی . ومن الله التوفیق